مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوالان: ډاکټر محمد حسين پاپلي يزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۱/۱۷

# لويه تلوسه

## پولسمه برخه

## د اوبو بين المللی قوانين

**دوهمه برخه**

**دويم فصل**

**د پولېز ( پوله جوړونکي) سيندونه**

**د دجلې سيند:**

د دجلې رود چې ۱۹۰۰ کيلومتره اوږدوالي لري د ترکيې له ختيځه سرچينه اخلي. د سوريې يوه کوشنَی پوله جوړوي بيا عراق ته ننوزي او شط العرب ته تويیږي. د حوضي مساحت ۲۵۸۰۰۰ کيلو متر مربع ده او حجم يا کميت يې په هره ثانيه کې ۱۵۰۰ مترمکعبو ته رسيږي.

دجله د لارې په اوږدو کې عراق کې د ننه له هغه رودونو چې د ايران لويديزو غرونو څخه سرچينه اخلي نور هم بډايه کيږي. ترکانو ايرانيانو او عراقيانو د دغه سيند په سرڅانګو د پاسه بندونه جوړ کړي يا د بند جوړولو په حال کې دي.

<u>د ايران ډيپلماسي د هغو سيندونو په تړاو، چې د ترکيې له خاوری سرچينه اخلي او د سوريې او عراق له لاری د ايران پولو ته رارسيږي، ياني د فرات او دجلې دوه لوی سيندونه، څه وه او بايد څنګه(څه) وي؟</u>

د کلاسيکې ديپلماسي د ليدلوري له مخې، ايران دجلې او فرات ته چنداني پاملرنه نه کوله، کله چې دغو دوو رودونو شط العرب رامنځ ته کړی، او د ايران او عراق په شريکه پوله يې اروند رود رامنځ ته کړی دی ايران د عمل ډګر ته رادانګلی دي. د ايران کلاسيکې ډيپلماسی له نظره اروند رود نه د اوبو د مهمې سرچينې په عنوان بلکې د مهمې اوبه پولي په عنوان په پام کې نيول شوَی دَی. يقيني توګه کلاسيکې ديپلماسی له نظره، ايران نشول کولای، د ترکيې، سوريې او عراق په خاوره کې د بندونو جوړونې په برخه کې اعمال شويو سياستونو په برخه کې مذاکراتو ته د داخليدو لپاره ادعا ولري. خو دا مهال د ترکيې- سوريې او عراق له لورې د فرات او دجلې کنترول د ژوند چاپيريال پراخه ناوړه پايلې (ناوړه تبعات)، په سيمه کې د ګوانډوونکو خاورو دوړو په را منځ ته کېدو سره کم له کمه د ژوندچاپيريال له نظره په دې برخه کې د ايران د ډيپلماسی د وارديدو ضرورت څرګندوي (۱۲ ) ياني د دجلې او فرات په اړه سياست او يا د ژوندد چاپيريال ډيپلماسی د اوبو له تامينولو او حتی د پولې تر سياستونو زيات اهميت پيدا کړَی دَی .

(۱۲) - البته ځيني متخصصين باور لري چې د هيواد د لويديز لوري خاورې دوړې يوازې د دجلې او فرات حوضې د تالابونو وچيدو سره تړاو نلري ، بلکې د سوداني اوبو او هوا له ستونځو سره هم تړاو مومي ياني د خاورو دوړو منشا د افريقا ختيځ د سعودي عربستان وچ بيابانونه او د سوداني بادونو الوتل بولي.)

۱۳۵۰ لسيزې څخه د بندونو جوولو فعاليتونو ته د ايران نه پاملرنې، د دجلې او فرات حوضې په هيوادونو کې، د ژوند چاپيريال، اقتصاد، روغتيا، هوساينې او سوکالَی له نظره، د ايران پرخلکو په خاصه توګه د ايران پر لويديز، له زيانونو ډکې اغيزی شيندلي او ناوړه پايله يې رامنځ ته کړي دي. دغه کار د ايران نورو سيمو ته حتی د محدودو مهاجرتونو لامل شوي دي. که دغه لړۍ او دوړې په هر کال کې تکرار شي، شايد مهاجرتونه نور هم زيات شي.

نو لازمه ده د فرات او دجلې له مسئلې سره د کلاسيکې ډيپلماسی پرځای د بلې ديپلماسی له مخې چلن وشي. دجله او فرات او اصولاْ د بين النهرين حوضې رودونه پرانيستې او پراخه ديپلماسي ايجابوي. بايد د موجودو څوملیتي قراردادونو بشپړيدا او د مناسب نړيوال جوړښت او د نويو کنوانسيونونو او قراردادونو رامنځ ته کېدو په لټه کې و اوسو. د دجلې او فرات تنظيم او ترتيبولو د ژوند چاپيريال پايلو دا مهال زمونږ ملي ګټې له ګواښ او خطرې سره مخامخ کړي دي. په حقيقت کې مونږ نه يو توانيدلي چې خپلو ملي ګټو لپاره د نړيوال او سيمه ييز لورليد له مخې د ژوند چاپيريال يوه فعاله ديپلماسي پرمخ يوسو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

د ایران د ژوند چاپیریال ساتنې سازمان نه یوازې په نړیواله سطحه دغه راز په کورنۍ سطحه کې هم کم له کمه تر ۱۳۸۸ کال پورې یو انفعالي سازمان پاتې شوَی دی. یاني لومړی د ژوند چاپیریال تخریبیري یا بې ویجاړوونکي عوامل رامنځ ته کیږي او سازمان بیا وروسته په اقداماتو لاس پورې کوي. هیله ده په مدیریتي بدلون سره په تېره بیا جوړښتیز بدلونونو سره چې پدې سازمان کې د اجراکیدو په حال کې دي د دغه سازمان سیاست او دیپلماسي بدلون ومومي. او سازمان وتوانیږي مخنیونکو او څارنیزو سیاستونو ته د انفعالی سیاستونو په نسبت، په تېره بیا په نړیواله کچه، لومړیتوب ورکړي.

**اروند رود:**
د اروند رود په محدوده کې درې اساسي مسئلې موجودی دي:

۱ - د پولې ټاکل
۲ - د اروند رود چاپیریالي ژوند مسئلې
۳ - هیواد کې د ننه سیمو ته، په تېره بیا د فارس خلیج ساحلي سیمو ته، د اروند رود د اوبو لیږدونه

**۱ – اروند رود او د پولې ټاکل:**
په یقیني توګه د اروند رود په محدوده کې ، د پولې او د پولې او بیرې چلونې د برید او حدودو د ټاکلو له نظره، ایران باید عراق سره مذاکره وکړي سوریه او ترکیه د ایران (مقابل) مقابل لوري ندي. په اروند رود یا شط العرب باندی د حدودو ټاکلو تړون او تر سره شوي هوکړې، ایران او عثماني ترمنځ او بیا وروسته ایران او عراق ترمنځ لانجمن او شخړه ایز مبحثونه پاتې شوي دي. انقلاب څخه مخکې ایران لخوا په نړیواله کچه د موضوع د پرمخ وړلو له امله، شط العرب پر سر د عراق او ایران دوو دولتونو ترمنځ د الجزایر(۱۳) ۱۹۷۵ هوکړه منعقد شوه.

---

(۱۳)- د ۱۹۷۵ قرارداد لنډیز- د ایران شهنشاه او د عراق جمهور رئیس د لوریو د ربښتیني هوډ له مخې، د دواړو هیوادونو ترمنځ موجود اختلاف د ټولو مسلو غوڅ او ټیکاومن هواري ته رسیدو لپاره چې د ۱۹۷۵ د مارس په ۶ نیټه د الجزایر په هوکړه کې منعکس شوی ، لدی امله چې خواو د ۱۹۱۳ نیټې د قسطنطنیې د پروتوکول او د ۱۹۱۴ کال د حدودو ټاکلو کمیسیون د ناستو یادښتلیکونو پر اساس، د ځمکنی پولې د قطعي بیاځلی نښو اېښودلو(علامو) او د تالوګ کرښې په اساس یې د خپلې سیندیزې پولې په تحدید لاس پورې کړَی دَی. ۱ ماده : معظمین متعاهدین لوري، تاییدوي چې ایران او عراق ترمنځ دولتي ځمکېزه پوله هماغه ده چې بیا ځلي نښنه اېښودنه یې د ځمکني پولې د بیاځلي علامت ایښوولو سره په اړوند پروتوکول کې درج شویو مقرراتو او د یاد پروتوکول د ملپاتې په اساس او ورسره سمون کې چې له دغې عهدنامې(ژمنلیک) سره ملحق شوي دي، ترسره شوی دي. ۲ ماده : متعاهدین معظمین لوري، تاییدوي چې شط العرب کې دولتي پولې هماغه دي چې تحدیدول یې د رود د پولې تحدیدولو سره په اړوند پروتوکول کې درج شویو مقرراتو یه اساس او ورسره سمون کې او د نوموړي پروتوکول ضمیمې چې له حاضرې عهد نامې سره ملحق دي، ترسره شوي دي. ۳ ماده- معظم غړي لوري ژمنه کوي چې په پوله کې امنیت سره په اړوند پروتوکول کې د مندرجو مقرراتو په اساس او ورسره مطابقت کې او هغه ملپاتې چې له دې تړه لیک( ژمنلیک) سره یوځای شوي، په پرلپسې توګه د پولې په اوږدو کې هرډول ګډوډي راوستونکي مداخلې ته د پای ټکي د ایښودلو په منظور، که هره سرچینه هم ولري، دقیق او اغیزمن کنټرول عملي کړي-۴ ماده - متعاهدین معظمین لوري، تاییدوي.چې د دریو پروتوکولونو مقررات او د هغوی ضمایم چې د حاضر تړلیک په ۱، ۲ او۳ موادو کې یې دکر شوی چې پورته یادشوي پروتوکولونه ، هغو سره ملحق او نه بیلیدونکي برخه یې جوړوي پربکنده او دایمي او ناقابل نقض دي او د یوې کلي حللاری ناقابل تجزیه توکي جوړوییایله دا چې دې کلي حللاري هریوه نوکې ته زیان رسیدل به په اصولي توګه د الجزایر له هوکړی روح سره مخالف وي. ۵ ماده : د پولو ناقابل بدلون والي په چوکاټ کې او د دوو دولتونو خاورې بشپړتیا ته په بشپړ درناوي د معظمین او متعاهدین غړي لوري تاییدوي چې د هغوی ځمکنی او د رود د پولې کرښه بلاتغیره دایمي او قطعي ده. پولیزو رودونو پروتوکولونو څخه یو ډېر کامل پروتوکول ۱۹۷۵ قرارداد سره اړوند پروتوکول دی. پدې پروتوکول کې د ۱۹ سیندونه(رودونه) یاد شوي دي. سیندونه (رودخانی ) په دریو ډلو ویشل شوي دي: الف ډله: لکه سیروان الوند، قورتو، دوبرج، چې ستونځې یې هواری شوي دي. د هغوی اوبه ۵۰ ٪ ایران او ۵۰ ٪ نورې یې د عراق دي. ب ډله: هغه سیندونه دي چې هغوی په اړه عراق سره ستونځه نلرو. ج ډله : هغه سیندونه چې برخه لیک او تکلیف یې وروسته مشخص کیږي دغه پروتوکول په حقیقت کې د پولې اوبو په تړاو د ایران او عراق اړیکه مشخص کړی ده. )

بعثي عراق د دغه قرارداد له تړلو راضي نه وو. د ایران له اسلامي انقلاب وروسته، د عراق دولت دغه تړون لغوه اعلام کړ او صدام قرارداد په تلویزیون کې د ټولې نړی په مخکې څیري کړ او څو ورځې وروسته یې په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ایران برید وکړو. سمه ده چي په ایران د عراق د برید دلیلونه او ۸ کلنه جګړه، باید په بیلوبیلو مسئلو کي ولټوو خو صدام لخوا د الجزایر۱۹۷۵ قرارداد لغوه کول په ایران د عراق د برید یو اصلي لامل ؤ.

سوریه او عراق د اوبو ویشلو پر سر په ۱۹۹۰ کال کي یوې دوه اړخیزې هوکړې ته ورسیدل. پدې توګه چي سوریه په فرات اوبو کي ۴۲ ٪ او عراق د ترکیې - سوریې له پولي ۵۸ ونده ولري. په ټوله حوضه کي د اوبو ونډې له یوې کلي هوکړې څخه بهر، د ګډپولیزو (منځپولیزو) اوبو د لانجو څېړنو او هوارولو لپاره یوه شریکه فني کمیټه هم تشکیل شوه. دغه کمیټه د ترکیې او عرق لخوا په ۱۹۸۰ کال کي تشکیل شوه او سوریه هم په ۱۹۸۳ کال کي ورسره یو ځای شوه .

| |
|---|
| **ESCWA(14) د دغي کمېټي د جوړېدو موخي داسي څرګندوي چي «دغه کمېټه اوبو پر سر مسئلو دمذاکرو او هوارولو لپاره» تشکیل شوې ده .خو دې سره سره، لېدل کیږي دغه کمیټه د اوبیزو پروژو اجرا کولو په خاطر له دواړو لوریو څخه د اطلاعاتو لاس ته راوړلو لپاره ګټوره ده او د اختلافونو هوارى لپاره ډېره کمه ګټوره واقع شوې ده. سربیره پردې د دغي کمېټي وروستى څو اړخیز غونده چي په ۱۹۹۲ کال کي تشکیل شوه او هغه هلي ځلي چي بیا وروسته د دغي کمیټي فعالولو لپاره عملي شوې بري ته ونه رسیدې.** ESCWA 2002 Gruen 2000 |

(14) - Eommission for Western Asia Economic and Social

پدې لړ کي ایران د دغو کمیټو او جلسو یا قراردادونو له منځه په هیڅ یو کي شامل نه دی. حال داچي د دجلي – فرات او شط العرب په حوضه کي چی ۷۸۹۰۰۰ کیلومتر مربع مساحت لری ، ایران د ۷/۱۹ په سلنې د سورېې پر تله زیاته ونډه لري.

د پام وړ ده چي په طبیعی او تاریخي توګه د کارون او کرخه سیندونه د بین النهرین او اروند رود په حوضه کي شامل نه دي. تېرمهال، طبیعی لحاظه، کارون او کرخه له اروند رود سره نه یو ځای کېدل. اروند رود سره د کارون یوځای کېدنه تقریباً نوې پدیده ده. کرخه هم هغه رود دی چي پولېزو هورونو په تېره بیا هورالعظیم سره یو ځای کیږي. لدې امله دا دواړه پوله جوړونکي(پولیز) سیندونه ندي. له ۱۹۷۰ لسیزې راهیسې په ځینو منابعو کي زیات ټینګار کیږي چي کارون او کرخه هم د اروند رود له ښاخونو (څانګو)څخه دي. دا چار نړیوالی حقوقي او سیاسي پایلي ( تبعات) لري.

نوربیا
د دجلی – فرات سیندونو په حوضه کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ